# [لومړۍ معلومات پاڼه] د خطر پوهاوی او ټولنیز مشارکت (RCCE) څه او ولې مهم دی

- <u>د خطر پوهاوی او ټولنیز مشارکت (RCCE) څه دی؟ له تعریفونو ورهاخوا</u>

**د خطر پوهاوی او ټولنیز مشارکت (RCCE) د کووید-۱۹ پرور اندې د غبرګون لپاره یوه میان – سازماني منل شوې ټرمینالوژي ده**

د خطر پوهاوی او ټولنیز مشارکت (RCCE) د معلوماتو او له ټولنې سره د کار په ځانګړې توګه د عامې روغتیا د بېړنیو حالاتو اړوند کارې ډګر نوم دی. د اوسنی بڼې ریښې یې په لوېدیزه افریقا کې د ایبولا (۲۰۱۴-۲۰۱۶) بحران ته غځېږي. دا د کووید-۱۹ پر وړاندې د غبرګون لپاره منل شوې میان-سازماني ټرمینالوژي ده. په نړیواله کچه یې مخکښ رهبري کوونکي سازمانونه د روغتیا نړیوال سازمان (WHO)، یونیسېف (UNICEF) او د سره صلیب نړیوال فدراسیون (IFRC) دی.

**د خطر پوهاوی او ټولنیز مشارکت (RCCE) نسبتا "نوی" ډګر دی... متفق علیه تعریف نه لري.**

د روغتیایي تخصصونو د ډېرو نورو ساحو په پرتله، د خطر پوهاوی او په ټولیز ډول RCCE یوه نسبتا "نوې" ساحه یا ډګر دی. په دې معنا چې لا یې هم د تعریف او رول په اړه بحثونه شته دي او دا چې لا یې هم کوم ټولمنلی تعریف نشته.

**د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) د خطر پوهاوی (RC) په لاندې ډول تعریفوي...**

د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) د خطر پوهاوی په وخت سره د معلوماتو د تبادلې، مشورې او د متخصصینو، د ټولنیزو مشرانو یا چارواکو او له خطر سره مخ خلکو ترمنځ د نظرونو د تبادلې په توګه پېژني. له دې سره له خطر سره مخ خلک کولی شي محافظتي چلندونه درک او رامنځته کړي، او چارواکي او متخصصین د خلکو اندېښنې او اړتیاوې اورېدلی او رسیدګي ورته کولی شي او کومې مشورې هم چې وړاندې کوي اړوندې، باوري او د منلو وړ به وي (WHO، ۲۰۱۸).

**او "ټولنیز مشارکت" د خطر په پوهاوي (RC) کې د ډېرو ارتباطي تکنیکونو له ډلې یو تکنیک بولي...**

عامه روغتیا، بېړنیو روغتیایي حالاتو ته د رسېدګۍ او ځواب ویلو د بریالي کېدو لپاره د ټولنې د مشارکت اهمیت او حساسیت لا ډېر درک کوي. د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) د خطر د پوهاوي په تعریف کې، د ټولنې مشارکت په ګڼو ارتباطي تکنیکونو کې د یوه تکتیک په توګه شاملوي، چې له مېډیا او ټولنیزو رسنیو، جمعي اړیکو او د مسؤولو لورو له مشارکت سره یو ځای کارول کېږي. (WHO، ۲۰۲۰).

**د سره صلیب او هلال احمر خوځښت د کارېښه، د ټولنیز مشارکت او ځواب ویلو (CEA) تصور دی**

د سره صلیب او هلال احمر (RC/RC) خوځښت، د ټولنې مشارکت او ځواب ویلو (CEA) د محافظتي چلندونو د هڅونې او فعالونې او د ټولنو د اړتیاوو، فیډبک او شکایتونو اورېدنې لپاره د ټولنو او افرادو د مشارکت او ښکېلتیا د پروسې په توګه پېژني، ترڅو دا ډاډ ترلاسه شي چې هغوی په ټولو پړاوونو کې په بېړنیو پروګرامونو او عملیاتونو کې فعاله ونډه اخیستلی شي او د بېړنیو پروګرامونو لارښوونه کولی شي. (IFRC، ICRC، ۲۰۱۶).

د دغه خوځښت له لوري د ټولنې د مشارکت او ځواب ویلو (CEA) چاره له څلورو اساسي ارکانو سره تړلې ده: ژوند ژغورونکي معلومات، د ټولنې فیډبک، د چلند بدلون، او د ټولنې تر رهبریت لاندې حل‌لارې. د سره صلیب نړیوال فدراسیون (IFRC) دغه څلور اساسي برخې د RCCE په توګه رانغاړي؛ ځکه د ټولنې مشارکت او ځواب ویلو (CEA) او د خطر پوهاوی او ټولنیز مشارکت (RCCE) له مفهومي او عملیاتي نظره مشترکات سره لري.

**تعریفونه مهم دي. ګډه همکاري لا ډېره مهمه ده.**

هر ډګر، ټرمینالوژي یا د تخصص ساحه په هماغه برخه کې مهم او ځانګړي لیدلوري رامنځته کولی شي، خو حقیقت دا دی، چې دوی له یو بل سره مشترکات لري. تعریفونه مهم دي، مګر په هر صورت ښایي ګڼ شمېر بېلابېلې ریښې، ټرمینالوژۍ او لېبلونه موجود وي چې د ګډ کار او همکارۍ د نشتون لپاره پلمه نه شي کېدای، ځکه همغږي خورا زیاته مهمه ده. بالآخره، ټولنې زموږ تعریفونو او د ټرمینالوژیو معماوو ته اهمیت نه ورکوي، دوی ولې باید دا کار وکړي؟

- **ولې د خطر پوهاوی او ټولنیز مشارکت RCCE مهم دی؟**
**له کووید-۱۹ سره په ټولنو کې او د ټولنو له لارې مبارزه**

د روغتیا نړیوال سازمان WHO (۲۰۱۸، ۲۰۲۰) پربنسټ، د خطر پوهاوی او ټولنیز مشارکت (RCCE) ځکه مهم دی، چې:

۱. خلک د ځان او خپلو عزیزانو د ساتلو د څرنګوالي په اړه د عملي مشورو پر ترلاسه کولو سربېره، **د معلوماتو ترلاسه کولو** او پر هغو خطرونو، چې دوی ورسره مخ دي، د پوهېدلو حق لري.
۲. د سردرګمۍ له کمولو او د ناسم پوهاوي له مخنیوي سره مرسته کوي او په دې توګه باور رامنځته کوي او د روغتیایي توصیو د پیروۍ شونتیا زیاتوي.
۳. د **پېچلې علمي پوهې له بدلون او وړاندې کولو** سره په داسې توګه مرسته کوي، چې د ټولنو لپاره د درک، لاسرسي او باور وړ وي.
۴. په اغېزمنو او له خطر سره مخ وګړو کې د احتمالي خطرونو ترمنځ د شته خلا په ډکولو کې مرسته کوي او هغه چې د متخصصینو او چارواکو له خوا کتل شوي – دا تصورونه توپیر لري.
۵. د **نظارت او مراقبت**، **د قضیو راپوروکولو**، **د قراردادونو تعقیب**، خوندي او باوقاره دفن کولو، د ناروغانو پالنې، د ژوندي پاتې شوو لپاره د ملاتړ چمتو کولو او **ډېرو نورو مواردو لپاره خورا اړین** دی.

د سره صلیب نړیوال فدراسیون IFRC (۲۰۲۰) پربنسټ، له مخکېنیو روغتیایي بېړنیو حالاتو چې وروستی یې ابیولا ده، ترلاسه شوو درسونو ښودلې چې د خطر پوهاوی او ټولنیز مشارکت (RCCE) حیاتي اهمیت لري؛ ځکه:

**۱. وباوې په ټولنو کې پیل او پای ته رسېږي.** که موږ په ټولنه کې د ویروس د خپرېدو مخه ونه نیسو، موارد به یې دومره زیات شي چې روغتونونه به تر فشار لاندې ونیسي. درملنه مهمه ده خو اساسي علاج نه دی او بیا د افغانستان په څېر هېوادونو کې درملنې ته لاسرسی هم شایي آسانه نه وي. کووید-۱۹ د ناروغانو په درملنې سره نه شي ختمېدای، بلکې په ټولنه کې یې د خپرېدو او انتقال په مخنیوي سره پای ته رسېږي.

**۲. د دغې وبا د پای ته رسولو لپاره باید هغوی په خپلو شراېطو کې د "مختصصینو" او "شریکانو" په توګه وپېژنو.** یوازې له ټولنو او ټولنیزو ګروپونو سره د ګډ کار او همکارۍ، د دوی د تخصص او مهارتونو د منلو، د دوی د نظریاتو اورېدلو، او د دوی د ځینو حل‌لارو د ملاتړ له لارې کولی شو په کېډه سره دغه ساري رنځ یا وبا له منځه یوسو. په دې توګه موږ د دغو حل‌لارو اهمیت او اړوندوالي، منښتې او مالکیت ته وده ورکولی شو. له دې پرته، د داسې فعالیتونو له پلي کولو او خدماتو وړاندې کولو سره چې د کارولو او منل کېدو وړ نه وي، خپل وخت او منابع ضایع کوو.

**۳. د دغه کار لپاره باور جوړونې ته اړتیا لرو.** د خطر پوهاوی او ټولنیز مشارکت (RCCE) طبیعتا مشارکتي او پر ټولنه ولاړ پروګرام دی او په ژور ډول یې د هغو کسانو ترمنځ چې پوهېږي (متخصصینو) او مسؤولینو (چارواکو) او اغېزمنو خلکو (ټولنو) له باور سره تړلې ریښې لري. که ټولنې پر موږ باور ونه کړي، موږ ته به غوږ هم نه ږدي، عمومي روغتیایي اقدامات به نه مراعاتوي، ټولنو ته به زموږ خوندي لاسرسي ته اجازه نه ورکوي، د ناروغۍ د مواردو راپور به نه ورکوي، او په زیات احتمال دوی به زموږ هغه روغتیایي خدمات هم نه کاروي چې موږ یې له دغې وبا سره د مبارزې لپاره وړاندې کوو او د نورو روغتیایي خدماتو جذب به د همدغې بې باورۍ له کبله کموالی ومومي.

**۴. د باور جوړونې لپاره باید هغه څه ته چې ټولنې یې موږ ته وایي غوږ کېږدو او له مخې یې اقدام وکړو له هغوی سره کار وکړو.** د عامې روغتیا اړوندو بحرانونو په تېر کې ثابته کړې، چې د عامې روغتیا پیغامونه په یوازې سره د خلکو چلند نه شي بدلولی. په دې معنا چې د ټولنې تر رهبرۍ لاندې حل‌لارو پېژندلو او ملاتړ ترڅنګ، باید د ټولنې د فیډبک اخیستلو میکانیزمونه رامنځته کړو، ترڅو د هماغه فیډبک له مخې استنباط او تحلیل وکړو او په دې توګه ټولنه وګوري چې موږ له دوی اورو او د دوی اساسي اندېښنو ته ځواب وایو. له عملیاتي پلوه، دا یوازې زموږ د پیغام بدلون نه، بلکې د هغه څه بدلون دی چې کوو یې او په کوم ډول یې کوو (د غبرګون تګلاره).

**۵. موږ باید د خلکو حقیقي مسائلو او اندېښنو ته ځواب ووایو.** د یوې وبا پر مهال، خورا زیاتې کنفیوز کوونکې خبرې او آوازې د دغې وبا په اړه له بېلابېلو لارو او سرچینو څخه خپرېږي. ځینې دا سرچینې شایي متناقض معلومات وړاندې کړي. دا چې آوازې د حقایقو په پرتله ژر خپرېږي او له حقیقي روغتیایي معلوماتو سره په ټکر کې وي، خلک له ځان ژغورلو منع کولی شي او زموږ د خطر د پوهاوي هڅې تر سیوري لاندې راولي.

مور، یوازې پر خلکو له تمرکز سره کولی شو اغېزمنو خلکو ته ځواب ویونکي وو او د دوی او نورو اړوندو مسؤولو لورو په وسیله ځواب ویونکي وو. اغېزمنو خلکو ته ځواب وینه (AAP) یو مسؤولیت دی، نه یو انتخاب، چې د ډونر پر یوه غوښتنه هم تبدیل شوې ده.